
اخترمحمد یوسفی

# اسلامی مذهبی افراطیت څنګه منځ ته راغلی دی؟

## د خلکو د دینی، مذهبی عقایدو او نظریاتو سره د زور له لاری مخالفت کول حماقت دی.

د افراطیت د پدیدی اشکال د انسانی عقایدو او نظریاتو په لړ کښی و هغه ناوړه حالت ته وایی، کوم چی د انسانان پخپل کړنو کښی د ناپوهی او ناوړو احساساتو پکار اچولو سره د معمول معیارونه څخه سرغړونه کوی، انسانی اعمال د افراط پړول سرته رسوی. د انسانانو په کردارکښی د دینی، مذهبی او یا د نوروعقاید کښی افراط د ناوړو کړنو حالت شته والی یوخاص امربلل کیږی. افرطیت د انسان په کردار کښی خپلی ننی او باندنی خاص علتونه لری. د اوسنی پیری په سره کښی د سیاسی اسلام افراطی ناوړو کړنو اشکال منځ ته راتګ د خپل ځان علتونه لری. افراطیت د انسانی نظریات توپیر جګړی په شکل را برسیره کیدل، د ځان څخه د دفاع په منظور د ناوړ عمل اوعکس العمل پړول را ښکاره کیږی. افراطی کړنی په دین او مذهب پوری اړه نلری. د افراطیت د ناپوهی مرض دی چی دینی احکام د احساساتو پواسطه پلی کول غواړی. انسانن افراطی کردارهغه اعمال او عکس العملونه دی، کوم چی انسان د خپل ماحول د ذهنی اومحیطی شرایطوڅخه، د مقابلی په ډګر کښی د دینی احکامو برخلاف عمل کوی.


دینی، مذهبی افراطیت یواځی د اسلام د دین او مذهبونو د پیروان په کړنو کښی نه لیدل کیږی، بلکی دینی او مذهبی افراطیت د نور ادیانو او مذاهبونو د پیروانو په لیکو او کړنو کښی لکه یهودیان، د کلیساګانو پیروان، او د داسی نورو دینی، مذاهبی انسانانو په نظریاتوکښی هم ډیر لیدل کیږی.
دا چی د امریکی او د غربی هیوادونو واکداران ولی یواځی افراطیت د اسلام د دین، په مسلمانانو کښی وینی، دا لید ځان دښمنان بولی، د دوی دښمنی هم د ځان سره نور اهداف او علتونه لری.



د مصراخوان المسلیمن ګوند مؤسس حسن البنا، مصری ایمان الظواهری، د سعودی عرب اسامه بن الادن د القاعدی دوه مشران

د مصر اخوان المسلمین ګوند جوړیدل، د سیاسی اسلام جګړیز لومړنی ګامونه په مصر کښی هغه وخت اساس کیښودل شو، کوم چی فرانسوی او انګلیسی شکیلات د مصر د سویس کشترانی کانال باندی په زوره واک درلودل. په مصر کښی دا جګړه په سر کښی د فرانسوی او انګلیسی شکیلات پرضد د سویس پر کانال باندی د ولګی پر وخت، د آزادی بخښونکی جګړه په شکل پیل شویدی. ددی جګړی اصلی علت دا ؤ چی د سینا صحرا د پراخی سیمی پردښت د مصر پر خاوره باندی، فرانسوی او انګلیسی شکیلات د د دوو لوی سمندرو اوبه یی د کشتی د تګ او راتګ دپاره د سویس کانال یو د بل سره وصل کړی وه، کیندلی شوی ؤ. د سویس کانال د مصر پر خاوره باندی جوړ شو ؤ، د کانال ټول کارونه پخپله مصریانو کاوه، مګر فرانسوی او انګلیسی شکیلات تر یوی پیری څخه لا زیات د سویس پر کانال باندی کنترول درلود، شکیلاتګرو د مصر ملکیت سویس د کانال ټول عواید یی و خپل ځانونو ته راټولول.
دمصر د اخوان المسلمین ګوند د فرانسوی او انګلیسی شکیلات څخه د سویس کانال د آزادولو دپاره

**پخپل ساختار کښی، د الجهاد جګړیز ډله یی جوړه کړی وه، چی د فرانسوی او انګلیسی د شکیلاتګرو سره د کانال د آزادړلو د پاره وجنګیږی. په ۱۹۴۸ میلادی کال کښی کله چی د اسرائیلو دولت د فلسطینیانو پر خاوره باندی جوړ شو، الجهاد ډله د فلسطین د خاوری آزادی د پاره د اسرائیلو پر ضد د فلسطین د خاوری د آزادی دپاره په جکړو کښی برخه اخیستل. د اسرائیلو سره عربانو په جګړه کښی مات شول، د عربو و د ماتی سره سم د مصر جمهور رئیس انورالسادات د اسرائیلیانو سره روغه وګړه، د مصر جمهور رئیس د اسرئیل دولت یی په رسمیت وپیژاند. ډیر عربو د سادات کار یی وغندل. په ۱۹۸۱ کال کښی اخوان المسلین د الجهاد ډله چی اظواهری د الجهاد غړی ؤ انوارالسادات ترور کړل.**





**د افغانستان د طالبانو لومړنی ډله د امریکا او سعودی د دولتونو په مرسته سره د پاکستان پواسطه د جهادی ډلو رهبرانو مولوی محمد نبی، او جلال الدین حقانی د پلویانو لخوا د ۱۹۹۴ میلادی کال کښی په پاکستان جوړ شویدی. طالبان په ۱۹۹۵ کال لومړی کندهار او بیا په ۱۹۹۶ کال کښی کابل ونیول.**





**د امریکی او دغربی هیوادونو د اسلام پالو تندلارو سره اوسنی جګړه په افغانستان کښی کومه نوی جګړه نده. دا امریکی دوامداره جګړه په افغانستان کښی رقابتی جګړه ده، چی لومړی پړاو یی د امریکی لخوا د شورویانو سره په ۱۹۸۰ کال کښی پیل شوی ؤ. امریکائیان او د دوی غربی او عرب انډیوالانو د پاکستان په مرسته د دشورویانو سره په افغانستان کښی لس کاله جګړه وکړه او افغانستان یی ویجاړ کړ. امریکایانو په افغانستان کښی د شوروی د عسکرو د وتلو سره سم خپله جګړه یی په بی مسؤلیته پای ته ورساوه. امریکایان پخپله د افغانستان څخه ولاړل، مګر د خپل افغان جهادی ډلی، او د عرب تندلارو ملګری یی د جګړی په ډګر کښی یواځی بی سرنوشته پریښودل. په افغانستان کښی د امریکی نیابتی جګړو دویم پړاو دری لسیزی کیږی چی د امریکی د جګړو څخه هغه یواځی بی سرنوشته پاته شوی افغان اسلامپال، عرب تندلاری، د جهادی ډلو په نامه، که القاعده ده، طالب، اویا که داعشیان دی د امریکی مرور ملګری دی، چی د پاکستان، ایران او سیمی د نورو لوبغاړو په مرسته په افغانستان کښی خونړی جګړی ته دوام ورکوی.**

**دا افراطی ډلی کله کله خپل د توپک خوله د امریکی او دغربی نړی د هیوادونو و خواته هم نیسی، او خپل ډزی هم کوی. امریکائیان او د غربی نړی هیوادونه د سعودی عرب په شمول په افغانستان کښی د**

اسلام پالو افراطي ډلو څخه د شوروي سره په جګړو کښې کار واخیستل. اوسنی افغانستان بی خاوند ملک دی، کوم چې د امریکیغربي او عرب اسلام پال تندلاري په افغانستان کښې پخپل منځی جګړو کی ټول هیواد یی وران کړیدی. امریکا او د دوی اندیوالانو په افغانستان کښی خپل رقابتی جګړی پیل کړ، کله چې د امریکا اهداف سرته ورسیدل، نو افغانستان د جګری په بل اور کښې یواځی پریږد. امریکائیان پخپله د جګړی د ډګر څخه تښتیدل. امریکا د خپل جګړو په لړ کښی نه یواځی په ۱۹۹۰ کلونو کښې یی په افغانستان یی د جګړی ډګر بی مسولیت پریښودل، بلکی په همدی ډول د ۲۰۲۱ میلادی کال د اګست په میاشتی کښی بیا هم د دوهم ځل د پاره افغانستان یی د جګړی په ډګر کښی یواځی پریښودل.
امریکا د اسلام پالو تندلا رو سره د زور، نظامی لاری او یا د استخباراتو د پټ تړونو پواسطه کار اخلی. د امریکی د زور او مقابلی سیاست او د استخباراتو د پټ تړونونه د مذهبی تندلارو سره امریکی ته چې ښکاره د ناکامی نتیجی او پایلی لری. مګر بیا هم امریکاییان او د غربی هیوادونه واکمنان له همدی ناکامو سیاستونو د پایلو د موجودیت سره سره خپلو زور سیاستونه، ته دوام ورکوی. امریکایی واکمنان خپل سیاسی نیمګړتیاوی په درسته توګه ارزیابی نکوی.



مصری الصله سیف العدل د القاعدی د رهبری نوی کاندید

د تند لارو د رهبران او یا د نورو بیگناه خلکو په وژل سره اسلام پال تندلاری له منځه نه ځی. د انسانانو د وژلو لاره یی سمه لاره او د حل لاره هم نده. د اسامه بن الادن په وژلومذهبی تند لاری ورک نشول، د الظواهری او یا نورو افرادو په وژلو سره هم دا جگړی نه ختمیږی. پدی وروستی شلو کالو کښی بن الادن پرځای، ایمان الظواهری او نور ډیر شمیر د تندلارو مشران ووژل شول، مگر پرامریکا باندی دحملی خطر بج شوی ندی. دبن الادن، پر ځای الظواهری او د الظواهری پر ځای د القاعدی نوی مشر مصری الصله اسلام پال سیف العدل به ژر د القاعدی تند لارو مشری پر غاړه اخلی، بیاهم دا جگړه دوام کوی.

د انسانانو د عام دینی، مذهبونه او نظریات سره سالم اصلاحی برخورد د ځان سره خپل خاص انسانی معیارونه لری، که چیری د انسانی ادیانو، مذاهبو او عقایدو سره د سره د زور، خصومت او دښمنی پواسطه برخورد وشی، نه یواځی دا چی دا انسانی، نیمگړتیاوی او مشکلات د خلکو ترمنځ نه حلیږی، برعکس د هیوادو او خلکو ترمنځ خصومت او دښمنی لا پسی ډیریږی. د نړی اوسنی افراطی او تفریطی مشکلات د نورو د ادیانو، مذاهبو او عقایدو سره د هغه د منل شوی اصلاحی معیارونو څخه کار نه اخیسل دی. د زور د لاری د برخورد ضرر او نقصان و دواړو خواو ته په ښکاره ډول سره رسیدلی دی. د انسانانو د عام عقایدو، مذهبونه او نظریات سره جگړیز لاره هیچا ته بریالیتوب نلری.

امریکائیان سیاست د اسلامپالو ډلواو د دوی پلویانو په وړاندی د انسانی رغنده اصلاحی معیارو باندی ولاړ ندی. د امریکایانو د دوحی تړون د طالبان سره ناکامه تړون دی. امریکایانو په افغانستان کښی د خپل جگړو دنیمگړتیاو اورونه تر اوسه پوری هم په ډیر خطرناکه ډول بل پری ایښی دی.